

# په سانټا کلارا (Santa Clara) ناحیه کې د لومړنۍ زده کړې پروګرامون

**د ماشومانو د ماغزو 90% تر 5 کلنۍ پورې وده کوي.**

په منظم ډول د لومړنیو زده کړو پروګرامونو کې ګډون کول له ماشومانو سره مرسته کوي تر څو په بشپړه توګه د ورکتون لپاره چمتو شي. د سانټا کلارا ناحیې د پوهنې اداره داسې سرچینې لري چې له کورنیو او پالونکو سره مرسته کوي تر څو داسې پروګرامونه ومومي چې د هغوی اړتیاوې پوره کړي

| پروګرامونه | لېږدیز ورکتون | خصوصي مرکزونه او کورونه* | هيډ سټارټ (Head Start) | د کلیفورنیا ایالت له ښوونځي د مخه پروګرام (CSPP) |
|---|---|---|---|---|
| **عمرونه** | 4 کلن | چمتو کوونکي ته په کتو ټوپیر کوي | 3 او 4 کلن | 3 او 4 کلن |
| **مهالوېش** | د بشپړې ورځې غوراوي موجود دي | د چمتو کوونکي له لوري تعیین شوي | د بشپړې ورځې غوراوي موجود دي | د بشپړې ورځې غوراوي موجود دي |
| **لګښت** | ټولو ته وړیا | د چمتو کوونکي له لوري تعینېږي، که مستحق وي سبسایډي کوپونونه د لاسرسي وړ دي | وړیا د کورنۍ د عاید پر بنسټ | وړیا یا په ټیټه بیه؛ د کورنۍ د عاید او نورو عواملو پر بنسټ |
| **د اړتیا وړ تعلیمي جز **** | اړین | اړتیا نشته مګر کېدای شي د لاسرسي وړ وي | اړین | اړین |
| **پر شرایطو پوره والی** | د ټولو لپاره خلاص دی، د ښوونځي د سیستم یوه برخه | هېڅ یو | باید پر شرایطو د پوره والي پر معیار برابر وي | باید پر شرایطو د پوره والي پر معیار برابر وي |

(د CDE UPK څخه اخیستل شوی)

*مرکزونه او د کورنیو کورونه کېدای شي چې جواز ولري یا له جواز څخه معاف وي
** هغه پروګرامونه چې تعلیمي بشپړوونکي ته اړتیا لري، باید له وده ییز پلوه مناسب او د څېړنو پر بنیاد ولاړ معیارونه/ بسټونه تعقیب کړي

Santa Clara County Office of Education

→

په www.enrollsantaclara.org نور معلومات په کې ترلاسه کړئ

## يو پروګرام وموموئ

د سانټا کلارا ماشوم پالنې د سرچينې او ارجاع (R&R) پروګرام د لاندې پروګرامونو د ټولو غوراوېو لپاره کورنيو ته وړيا معلومات چمتو کوي. R&R پروګرامونه نه اداره کوي.

| | |
|---|---|
| **د کليفورنيا ايالت له ښوونځي د مخه دوره** | **د موقعيتونو او اړيکو د معلوماتو لپاره د سانټا کلارا کاونټي له R&R پروګرام سره اړيکه ونيسئ**<br>**ټليفون:** 5437-212-669 **برېښناليک:** childcarescc@sccoe.org **وېب سايټ:** www.childcarescc.org |
| **هيډسټارټ** | **د سانټا کلارا کاونټي د زده کړې، لومړنيو زده کړو خدمتونو له ډيپارټمنټ سره اړيکه ونيسئ**<br>**ټليفون:** 6900-453-408 **برېښناليک:** HSReceptionist@sccoe.org **وېب سايټ:** https://sccoe.to/ELS |
| **خصوصي مرکزونه او کورونه** | **د موقعيتونو او اړيکو د معلوماتو لپاره د سانټا کلارا کاونټي له R&R پروګرام سره اړيکه ونيسئ**<br>**ټليفون:** 5437-212-669 **برېښناليک:** childcarescc@sccoe.org **وېب سايټ:** www.childcarescc.org |
| **لېږديز وړکتون** | **د خپلې تعليمي ناحيې د نوم ليکنې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ**<br>https://sccoe.to/MySchoolDistrict |

## د سانټا کلارا کاونټي د ماشوم پالنې پورټل

د سانټا کلارا کاونټي د ماشوم پالنې پورټل د آنلاين پلټنې يوه وسيله ده چې کورنيو ته فرصت ورکوي تر څو په چټکۍ سره په سانټا کلارا کاونټي کې جواز لرونکي د ماشوم پالنې او له وړکتون د مخه پروګرامونه ومومي. وېب سايټ د سانټا کلارا کاونټي د تعليمي ادارې د ماشوم پالنې د سرچينې او ارجاع د پروګرام له لورې اداره کېږي.

- د شا و خوا 2,000 چمتو کوونکو د اړيکو معلوماتو ته لاسرسی وموموئ
- پروګرام د ځانګړنو له مخې وپلټئ
- په دې اړه معلومات ترلاسه کړئ چې د پاملرنې د لګښت په ادا کولو کې څنګه مرسته ترلاسه کړئ
- د هغو کورنيو لپاره وړيا حسابونه چې غواړي د پلټنې پايلې يې خوندي وي




**www.childcarescc.org**

## د معلوليت لرونکو ماشومانو لپاره پروګرامونه او ملاتړونه

د جامع مشارکت وړانديزونو وړيا ملاتړ، سرچينې او ارجاعات هم د ښوونکو او هم د کورنيو لپاره چې د معلوليت لرونکو او هغو زده کوونکو لپاره خدمتونه وړاندې کوي چې نور ارتياوې لري.

**له موږ سره اړيکه ونيسئ:**
6651-453-408
inclusionwarmline@sccoe.org
www.inclusioncollaborative.org

## د لومړنۍ زده کړې ويډيو ګانې

د سانټا کلارا کاونټي د تعليمي ادارې د لومړنۍ زده کړې يوټيوب پلې لېسټ وګورئ تر څو د لومړنۍ زده کړې د پروګرامونو په اړه په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې وموموئ.